# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۳/ ذو القعدة الحرام /۱۴۴۵ هـ، ق مطابق ۱۱/ جوزا /۱۴۰۳هـ، ش**

## د امام اعظم ابو حنیفة رحمه الله د ژوند حالات

الحمد لله رب العالمين إله الأولين والآخرين خالق الخلق أجمعين ومفضل بعضهم على بعض في العقل والدين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين محمدٍ الأمين و على آله واصحابه اجمعين الى يوم الدين ، أمابعد:

عن معاوية - رضي الله عنه - قَالَ : قَالَ رسول الله - صلى الله عليه وسلم:-« مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْراً يُفَقِّهْهُ في الدِّينِ » . متفقٌ عَلَيْهِ .

و عن أَبِي الدَّرْدَاءِ-رضي الله عنه-، قَالَ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« إِنَّ العُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ، إِنَّ الأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا إِنَّمَا وَرَّثُوا العِلْمَ». سنن الترمذي (٥/ ٤٨) وذكره البخارى معلقا.

پر دې امت باندې دالله جل جلاله د احساناتو او انعاماتو له جملې څخه یو هم د علماوو او فقهاوو شتون دی.

علماء د علم په تبلیغ کې د انبیاؤ وارثان دي، دا علماء دې چې د رسولانو او انبیاوو علم او تعلیمات امت ته رسوي او د هغوی د وفات څخه وروسته د هغوی دنده ترسره کوي که چیرې علماء نه وی، نو دالله تعالی پیغامات او احکامات به له څه وخت وروسته له خلکو هیر شوي ؤ او له یاده به یې وتلي ؤ . همدا علماء او فقهاء دي چې سلسلةً ددین حفاظت کوي اود رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د الله تعالی پیغامونه او حکمونه له یو قرن څخه بل قرن ته انتقالوي؛ خو په دې کار کې لوی کردار د هغو علماوو او فقهاوو دی چې الهي پیغامات او دیني تعلیمات یې د رسولانو او پیغمبرانو څخه زده کړي دي (صحابه کرام) او هغوی بیا دغه الهي اوامر او حکمونه له ځان څخه وروسته نورو علماوو (تابعینو) ته نقل کړی دي او بیا هغو وروستنیو ( تابعینو) هغه الهي امانت له ځان څخه وروسته راتلونکو علماوو ته سلسلةً نقل کړی دی (تبع تابعینو ته) او بیا هغو وروستنیو (تبع تابعینو) علماوو او فقهاوو د الله تعالی احکامات او پیغامونه سلسلةً امت ته رسولي دي چې تر مونږ پورې دا سلسله جاري ده.څکه خو دغه دریو طبقو علماء او فقهاء په اسلام کې د ځانګړي مقام او فضیلت څخه برخمن دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه داسې فرمایلي دي:«خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ» صحيح مسلم (٤/ ١٩٦٣) بهترین له خلکو زما قرن دی(زماد زماني خلک دي. (یعنې صحابه کرام)، بیا هغه خلک بهتره دي چې هغوی پسې راځي (یعنې تابعین) بیا هغه خلک بهتره دي چې هغوی پسې راځي (یعنې تبع تابعین).

چې ددغو بهتره او غوره خلکو له جملې څخه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله دی چې د رسول الله صلی الله عليه احکامات او تعليمات يې امت ته رسولي دي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وروسته هغه داصحابو کرامو علم او پوهه کټ مټ خپل امت ته رسولی ده. او برسيره پر دې امت ته يې هغه شرعي مسائل او نوازل هم بيان کړي دي چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کی يې مفصل او واضح حکم نه دی ذکر شوی.

**د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله زيږيدنه:**

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله اصلي نوم نعمان او پلار نوم يې ثابت ؤ او د نيکه نوم يې زُوطی او د غور نيکه نوم يې مرزبان ؤ چې په ۸۰ هـ کې په کوفه کې زيږېدلی او په ۱۵۰ هـ کې وفات شوی دی، قبر يې د بغداد په اعظميه ښار کې نړيوال شهرت لري.

ځينې تاريخ پوهان ليکي، چې امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله نيکونه د کابل د پروان د سيمې د خواجه سياران يا د استرغچ د کلي څخه ؤ چې د کابل له پروان سيمې څخه بيا کوفې ته تللي دي.

خطيب بغدادي د امام اعظم لمسي عمر بن حماد په حواله ليکي: (عن عمر بن حماد بن أبي حنيفة قال أبو حنيفة النعمان بن ثابت بن زوطي فاما زوطي فإنه من أهل كابل وولد ثابت على الإسلام وكان زوطي مملوكا لبني تيم الله بن ثعلبة فاعتق فولاؤه لبني تيم الله بن ثعلبة). تاريخ بغداد (۱۳/ ۳۲٤) عمر بن حماد بن ابي حنيفه د خپل نيکه د نسب په باره کې وايې چې ابوحنيفه نعمان بن ثابت بن زوطی ؤ، هر چې زوطی ؤ هغه د کابل اوسيدونکی ؤ او ثابت په اسلام باندې پيدا شوی دی او زوطی د بني تيم الله بن ثعلبه غلام ؤ او بني تيم الله بن ثعبله هغه بيا آزاد کړ نو ولاء د عتاقت بنی تيم الله ته ثابت دی.

خو په يو بل روايت کې راځي چې دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله نيکونه د چا غلامان نه ؤ. ابوبکر خطيب په خپل تاريخ بغداد کې د اسماعيل د حماد زوی او د امام اعظم لمسی ؤ څخه نقل کړي دي:(ما وقع علينا رق قط ولد جدي في سنة ثمانين وذهب ثابت إلى علي بن أبي طالب وهو صغير فدعا له بالبركة فيه وفي ذريته ونحن نرجوا من الله أن يكون قد استجاب الله ذلك لعلي بن أبي طالب فينا) تاريخ بغداد (۱۳/ ۳۲٦): زموږ پر کورنۍ هېڅ وخت غلامي نه ده واقع شوی ، نيکه مې په ۸۰ هـ کال کې زيږېدلی او غور نيکه مې (ثابت) په کوچنيوالي کې هغه حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه ته وړی دی او علي کرم الله وجهه ده ته او دده اولادې ته د برکت دعاء کړی ده او مونږ د الله تعالی څخه ددې اميد لرو چې الله تعالی به د حضرت علی کرم وجهه دعاء زمونږ په هکله قبوله کړي وي.

**دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله لومړنۍ زده کړه:**

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د کوفې په شتمنه او سوداګره کورنۍ کې زيږدلی ؤ. دده کورنۍ د ابريشمو سوداګري کوله، کله چې امام ابوحنيفه رحمه الله لوی شو، هغه هم د ابريشمو سوداګرۍ ته مخه کړه. امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په کم عمر کې قرآن کريم حفظ کړی ؤ او قرآن کريم يې له امام عاصم رحمه الله څخه زده کړی ؤ.

پخپله امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د خپلو زده کړو په اړه وايي: يوه ورځ امام شعبي رحمه الله ناست ؤ او زه يې له څنګه تېريدم، زه يې راوبللم او راته ويې ويل:چا ته ورځې؟ ما ورته وويل چې بازار ته ځم. هغه وويل: زما موخه بازار نه وه؛ بلکې کوم عالم ته ورځې. ما ورته وويل: زه پوهانو ته کم ورځم. راته ويې ويل: داسې مه کوه، زه په تا کې ځانګړې وړتيا وينم، د علم ترلاسه کولو او عالمانو سره د ناستې په اړه فکر وکړه. امام ابوحنيفه وايي: زما پر زړه د امام شعبي رحمه الله خبرې اغېز وکړ او بازار ته تلل مې پرېښبودل، نو سمدلاسه مې د علم په ترلاسه کولو باندې پيل وکړ.

**د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مقام او منزلت:**

مونږ نن دداسې شخصیت په اړه خبرې کوو چې که چیرې د هغه د ژوند په هره برخه کې په زرهاوو پاڼې ولیکل شي بیا به هم کمه وي او حق به یې اداء نشي.

هغه څوک چې د عباسیانو په دوران کې داسلامي امپراتورۍ په قلم رو کې د هغه د فقهې په اساس فیصلې کیدلی، هغه څوک چې د عثماني خلافت په دوران کې ټول خلافت د حنفي مذهب پیروان ؤ او د آسیا څخه دافریقا د ځینو برخو پوري ، بیا تر قفقاز پورې او آن تر چین پورې خلک د هغه د مذهب پیروان ؤ او نن هم په نړۍ کې د نورو مذهبونو په پرتله ٦٠ سلنه پیرویان دهغه د مذهب او فقهې دي.

ټول تاریخ پوهان وایې چې امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د اکابرو تابعینو له جملې څخه ؤ ؛ ځکه چې د هغه په وخت کې لاندې صحابه کرام ژوندي ؤ او له دغو صحابه کرامو څخه د ځینو سره یې لیدل شوي دي: حضرت انس بن مالك المتوفي سـ ٩٣هـ ،

حضرت عمرو بن حریث المتوفی سـ ٨٥هـ، حضرت ابوطفیل عامر بن واثلة المتوفی سـ١٠٢هـ ، حضرت السائب بن یزید المتوفی سـ ٩٩هـ، حضرت محمود بن الربیع المتوفی سـ ٩٩هـ . عبدالله بن ابي اوفي المتوفی سن٨٦ هـ.عمرو بن حارث، عبد الله بن الرئیس.

چې د حافظ ابن حجر عسقلاني په وینا دغسې د تابعیت منصب د بل عالم نه دی په برخه شوی کوم چې دده معاصر وو لکه په شام کې اوزاعي، په مدینه منوره کې مالک بن انس، په کوفه کې سفیان ثوري،په مکه مکرمه کې مسلم بن خالد، په مصر کې اللیث بن سعد.[تبییض الصحیفة ص:٦]

نو امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د اکابرو تابعینو له جملې څخه ؤ او د تابعینو زمانه هغه غوره زمانه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه فرمایلي دي:( إِنَّ خَيْرَكُمْ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ..).صحیح مسلم

ترجمه:- ستاسې څخه غوره زما د زمانې خلک دي، بیا هغه څوک غوره دي چې ددوی څخه وروسته راځي (یعنی تابعین)، بیا هغه څوک غوره دي چې له دوی (تابعینو) څخه وروسته راځي( یعنې تبع تابعین) .

امام سیوطي ددې صحیح حدیث: { لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَذَهَبَ بِهِ رَجُلٌ مِنْ أَبْنَاءِ فَارِسَ حَتَّى يَتَنَاوَلَهُ } مصداق امام ابوحنیفه بللی دی، او وایي چې په دې صحیح حدیث کې امام ابوحنیفه رحمة الله فضیلت ته اشاره ده. رد المحتار (١/ ١٣٠)

شیخ الحدیث علامه خلیل احمد سهارنپوري وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم  د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په اړه په هغه حدیث کې د زیري وینا کړې ده چې ابو نعیم په الحلیه کې د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (لوكان العلم بالثریا لتناله رجال من ابناء فارس). حلية الأولياء

ترجمه:- که چیرې علم د ثریا ستوري پورې تړلی وي، نو هغه نارینه به ځان ور ورسوي چې د فارس د بچیانو څخه وي.

په دې کې هیڅ شك نشته چې د دې څخه مراد امام ابوحنیفه دی ځکه چې د ګڼ شمیر محدثینو دا رأیه ده چې په حدیث کې د امام ابوحنیفه په اړه خوشخبري ورکول شوېده. (مسلم: ٣١٢/٢، باب فضل الناس) (بخاري شریف: صـ/٧٢٧ تفسیر سورة الجمعة باب قوله آخرین منهم لما یلحقوا بهم).

په یو روایت کې راځي: (عن هشام بن مهران يقول: رأى أَبُو حنيفة في النوم كأنه ينبش قَبر رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فبعث من سأل له مُحَمَّد بن سيرين، فقال مُحَمَّد بن سيرين: من صاحب هذه الرؤيا؟ فلم يجبه

عنها ثم سأله الثانية، فقال مثل ذلك، ثم سأله الثالثة فقال: صاحب هذه الرؤيا يثير علما لم يسبقه إليه أحد قبله). تاريخ بغداد وذيوله ط العلمية (١٣/ ٣٣٥)

ترجمه:- هشام بن مهران رحمه الله وايې: امام ابوحنيفه رحمه الله خوب کې وليده چې دی د رسول الله صلی الله عليه وسلم قبر مبارک رابرسيره کوي؛ نو يو کس يې امام ابن سيرين رحمه الله ته وليږه چې دده لپاره ورڅخهددې خوب د تعبير پوښتنه وکړي.محمد بن سيرين له هغه کس څخه پوښتنه وکړه ددې خواب والا څوک دی؟ هغه ورته جواب ورنکړ، بيايې ورڅخه پوښتنه وکړه چې ددې خوب والا څوک دی؟ بيا يې ورته جواب ورنکړ ، بيايې ورڅخه ددريم ځل لپاره پوښتنه وکړه. بيا محمد بن سيرين رحمه الله وويل: ددې خوب ليدونکی به داسې علم خپور کړي چې دده څخه به ورته نور هيڅوک نه وي مخکې شوي.

**دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله استاذان او شاګردان:**

د امام ابوحنيفه رحمه الله  د استادانو شمېر ډېر دی چې علامه ذهبي ۲۹۰ ښودلی دی او علامه شامي په رد المحتار کې ۴۰۰۰ څلور زره ښودلی دی چې د ځينو نومونه دا دي: عبدالله بن اوفي رضي الله عنه، عطاء بن أبي رباح، قتادة المفسر ، لشَّعبي، حماد بن أبي سليمان ، عمرو بن دينار، عبدالله بن دينار، وابن شهاب الزهري، ومحمد بن المنكدر، أبو إسحاق السَّبيعي، أبو جعفر الباقر، القاسم بن عبدالرحمن بن عبدالله بن مسعود، مسلمه بن كهيل، عون بن عبدالله، سماک بن حرب، عمرو بن مره، عدي بن ثابت الانصاري، عطاء بن سائب، موسی ابن ابي عائشه، علقمه بن مرشد.[ سير أعلام النبلاء ٣٩١/٦]

علامه محمد بن يوسف الصالحی الشافعی رحمه الله هم دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله داستاذانو شمير (۴۰۰۰) څلور زره ښودلی دی او ويلي يې دي چې دا ټول تابعين ؤ.[عقود الجمان ص:۱۸۳]

دامام ابو حنيفه رحمه الله په استاذانو کې محدثين هم موجود ؤ، مفسرين هم موجود ؤ، مؤرخين هم موجود ؤ، لغويين هم موجود ؤ او کوفه د عربي ژبې د فنونو مرکز ؤ،ځکه چې امام ابوحنيفه رحمه الله زيات وخت په کوفه کې تير کړی دی او کوفه د مختلفو علومو زانګو وه لکه صرف، نحو، لغت، معانی، فقه او اصول فقه. [د امام اعظم رحمة الله عليه لنډه پيژندنه ، مولانا عاشق الهي ص:۹]

امام محمد بن ادريس شافعي د امام ابوحنيفه رحمه الله د شاګرد شاګرد ؤ. امام ذهبي د امام شافعي رحمه الله په ترجمه کې ليکي:- ( وببغداد عن: محمد بن الحسن، فقيه العراق، ولازمه، وحمل عنه وقر بعير). سير أعلام النبلاء (١٠/ ٧)

او په بغداد کې يې علم د عراق له فقيه له محمد بن حسن څخه واخيست او له هغه سره يوځای شو او له هغه څخه د اوښ د آنډې په اندازه علم ترلاسه کړ.

همدارنګه امام أحمد بن حنبل رحمه الله د امام قاضي ابي يوسف رحمه الله  او دامام شافعي شاګرد دی.

که چيرې د علم الرجال کتابونه درست وکتل شي او د محدثينو د استاذانو او يا شاګردانو سلسله وکتل شي،  نو وبه وينو چې ددغو محدثينو مشران استاذان چې د (۸۰هـ) او (۱۵۰هـ) تاريخونو ترمنځ  وفات شوي دي يا به دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله استاذان وي او يا به يې شاګردان وي او يا يې به داسې معاصرين وي چې دامام اعظم ابوحنيفه حمه الله په علميت، امامت او فقاهت به معترف وي. اکثره دامام بخاري، امام مسلم او نورو مشهورو محدثينو استاذان دوه يا درې طبقې مخکې د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګردان دي. نو دا به د تعصب څخه لرې نه وي چې سړی ووايې چې فلانی محدث د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله څخه په احاديثو کې ښه پوهيده.

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله هم محدث ؤ او هم فقیه او محدث فقیه پر یواځې محدث بهتره دی. په دې خبره لوی لوی محدثینو اعتراف کړ ی دی. ابوبکر خطیب بغدادي په الفقیه والمتفقه کې ذکر کړي دي: عن عُبَيْدِ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو قَالَ: كُنَّا عِنْدَ الْأَعْمَشِ وَهُوَ يَسْأَلُ أَبَا حَنِيفَةَ عَنْ مَسَائِلَ، وَيُجِيبُهُ أَبُو حَنِيفَةَ، فَيَقُولُ لَهُ الْأَعْمَشُ: مِنْ أَيْنَ لَكَ هَذَا؟ فَيَقُولُ: أَنْتَ حَدَّثْتَنَا عَنْ إِبْرَاهِيمَ بِكَذَا، وَحَدَّثْتَنَا عَنِ الشَّعْبِيِّ بِكَذَا ، قَالَ: فَكَانَ الْأَعْمَشُ عِنْدَ ذَلِكَ يَقُولُ: «يَا مَعْشَرَ الْفُقَهَاءِ أَنْتُمُ الْأَطِبَّاءُ وَنَحْنُ الصَّيَادِلَةُ».الفقیه والمتفقه للخطیب البغدادي (٢/ ١٦٣)

د عبیدالله بن عمرو څخه روایت دی هغه وایې مونږ د امام اعمش رحمه الله سره ؤ او هغه دامام ابو حنیفه رحمه الله څخه دځو مسئلو پوښتنې کولې او امام ابوحنیفه رحمه الله به جواب ورکولو. اعمش به ورته ویل ددې خبرې جواب دې د کومه کړی دی؟ امام ابوحنیفه رحمه الله به ورته ویل: تا راته حدیث بیان کړی دی د ابراهیم نخعي څخه داسې او تا راته حدیث بیان کړی دی د امام شعبي رحمه الله څخه داسې ،عبیدالله راوي وایي نو په دغه وخت کې امام اعمش به ویل: ای د فقهاوو جماعته! تاسو طبیبان یاست او مونږ درمل ورکوونکي.

ښکاره خبره ده چې طبیب دوه صفته لري د مرض په تشخیص هم پوهیږي او په دارو ګانو هم پوهیږي او ګولی جوړوونکی یواځې د ګولی په جوړولو پوهیږي.

بله داچې په حدیث شریف کې د فقیه فضیلت بیان شوی دی . « مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْراً يُفَقِّهْهُ في الدِّينِ » . متفق علیه .

چاته چې الله تعالی ددې اراده وکړي چې په هغه باندې زیات خیر ورسوي ، نو هغه ته فقاهت په دین کې ورکړي.

امام ذهبي رحمه الله دده په ترجمه کې وایي:( أبو حنیفة الامام ، فقیه الملة، عالم العراق، أبو حنیفة النعمان بن ثابت بن زوطی التیمي، الکوفي....وعني بطلب الآثار، وارتحل في ذلك، وأما الفقه والتدقیق في الرأی وغوامضه، فإلیه المنتهی والناس علیه عیال في ذلك). سیر أعلام النبلاء (٦/ ٣٩٢) ابوحنیفه -رحمه الله- امام، ددې امت فقیه، د عراق عالم ابو حنیفه نعمان بن ثابت بن زوطی تیمی ، کوفی... ډیر کوښښ یې کولو د احادیثو په طلب کې او ددې لپاره یې سفرونه کړي دي او دهر چه فقه ده او په اجتهاد کې تدقیق دی او په فقه کې یی غوامض او باریکي ده نو په دې کې هغه لره انتهاء ثابته ده او خلک په دې کې د هغه تابع دي.

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله تقریباً ٥٢ – ٥٥ ځله مکې مکرمې او مدینې منورې ته سفر وکړ چا ورته وویل چې دا تاسو ولې دومره حجونه کوئ؟ هغه ورته وفرمایل چې زما موخه یوازې د حج ادا کول نه دي؛ بلکې زه غواړم مکې مکرمې او مدینې منورې ته د راتلونکو علماوو سره لکه د مصر شام او نورو ځایونو څخه راغلو علماؤ سره ناسته ولاړه خبرې اترې ولرم؛ ترڅو ما ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم ټول احادیث او مسائل ورسیږي.

بله داچې د(١٠٠هـ) کال څخه را په دیخوا د نړۍ ټول مجتهدین د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په فقاهت او مطلق مجتهدتوب باندې اعتراف کوي چې فقه د کتاب الله او د رسول الله صلی الله د سنتو تشریح او ثمره ده، نو څوک چې وایي چې امام ابوحنیفه رحمه الله په احادیثو نه پوهیده یا ورته احادیث نه ؤ رسیدلي داسې سړي ته د جاهل یا متعصب څخه بل څه نشو ویلای او کوم کسان چې وایې چې امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله محدث نه ؤ ، دا د هغوی په جهالت دلالت کوي.

دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په زمانه کې چې د اکابرو تابعینو زمانه وه احادیث په سینو کې ساتل کیدل او په کتابچو کې نه لیکل کیدل ، ډیر کم خلک به ؤ چې هغوی به احادیث د لیکلو په بڼه جمع کول ترڅو د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث ضایع نشي. همدا راز د کومو علماوو به چې احادیث په یادو زده وو هغوی به فقهاء هم ؤ لکه امام مالک، امام سفیان ثوري، سفیان بن عیینه، امام شافعي، احمد بن حنبل، ابن جریج، عبدالرزاق، معمر یمني اود اسې نور.

بیا چې کله دویمه او دریمه پیړۍ شروع شوه نو د احادیثو لیکل عام شو او احادیث وروستنیو محدثینو په مختلفو بڼو ولیکل لکه مصنفات، مسانید، جوامع ، سنن ، مستخرجات او زوائد.
نو کومو علماؤ چې احادیث کم لیکلي دي د هغې وجه داده چې هغوی د فقهي مسائلو په استخراج او استنباط کې مصروف ؤ لکه امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ، امام مالک رحمه الله ، امام شافعي رحمه الله لکه څرنګه چې په اکابرو صحابه کرامو کې د ابو بکر صدیق رضی الله ، عمر بن الخطاب رضي الله رضي الله عنهم جمیعا څخه کم احادیث روایت شوي دي ځکه هغوی د امت په مسائلو او غزواتو کې مصروف ؤ، خو ا ددې معنا نه ده چې هغوی ته احادیث کم یاد ؤ.
سره ددې هم د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه زیات احادیث روایت شوي دي او ددې ښکاره دلیل د هغه څخه روایت شوي دي داحادیثو کتابونه دي لکه کتاب الآثار چې دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ټول مسانید امام خوارزمي په جامع المسانید کې را جمع کړي دي چې ټول (۱۵) مسانید دي.
علامه موفق مکې د حافظ ابو یحییٰ زکریا بن یحییٰ نیشاپوري د مناقب ابي حنیفه په حواله د یحیٰ بن نصر دا خبره را نقل کړې چې ما له امام ابو حنیفه رحمه الله څخه اورېدلي چې وه فرمایل: ما سره د احادیثو ډېر زیات صندقونه دي، لږ مې ترې راوېستلي چې له کومو ګټه پورته کیږي.
امام زبیدي په خپل کتاب "عقود الجواهر المنیفة" کې د یحیٰ بن نصر دا وینا را نقل کړې هغه وایې چې زه یو وار امام صاحب ته ورغلم او کوټه یې له کتابو ډکه وه، ومې پوښتل دا څه دي؟ امام صاحب ځواب را کړ چې د احادیثو کتابونه دي.
یوه بله وجه چې دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله څخه کم احادیث روایت شوي دي ، هغه دامام ابوحنیفه رحمه الله په احادیثو کې د سخت منهج ؤ. امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د احادیثو د روایت او نقل په اړه سخت شرط درلود او دا ؤ چې څوک حدیث روایت کوي باید حدیث یې د زده کړې د ورځې څخه داسې حفظ وي چې تر اداء د ورځې پورې په کې کومه سهوه او نسیان ونکړي. شرح مسند أبي حنیفة لملا علي القاری (ص: ٤)
ملا علي القاري رحمه الله دامام ابوحنیفه رحمه الله د مسند په شرح کې پر احادیثو د استدلال لپاره د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله (۱۱) شرطونه او اصول بیان کړي دي. شرح مسند أبي حنیفة (ص: ۳)
امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د احادیثو په اړه ډېر محتاط ؤ، هغه د حدیثو قوي، ضعیف،مشهور، آحاد څخه علاوه دا هم کتل هغه آخري امر چې جناب رسول کریم صلی الله علیه وسلم پرې رحلت کړی وي یا په دې مسئله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم آخري عمل کوم یو ؤ؟.
د امام ابوحنیفة عالي سند احادي یا وحدانیات دي .سبحان الله! چې وحدانیات کوم چې امام خوارزمي په جامع المسانید کې په اسانیدو د امام صاحب نه نقل کړي. د ځمکې په سر بل داسې محدث نشته چې له ده سره احادي سند موجود وي. دا ویاړ او اعزاز یوازې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته الله جل جلاله ورکړی دی.
د نورو ټولو محدثینو عالي سند ثلاثیات دي او یواځې د امام مالک صاحب عالي سند ثنایات دي، نور ټول څومره چې محدثین دي او د دوی کتابونه دي عالی سند له دوی سره ثلاثیات دي. که په لنډو درته ووایم امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم،امام ترمذي،امام ابوداؤد، امام نسائي،امام ابن ماجه، امام ابوداؤد الطیالسي،امام عبد بن حمید،امام دارمي او امام طبراني دې ټولوسره عالی سندچې موجود دی هغه ثلاثیات دي.نو په دې ټولو محدثینوکې امام مالک رحمة الله علیه ته دا فوقیت حاصل دی چې ده سره ثنائیات شته.
علامه ذهبی امام صاحب په حفاظو محدثینو کې شمیرلی دی اوهغه یې په طبقات الحفاظ کې ذکرکړی دی او زیات صفت یې ورلره کړی دی.

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د نورو محدثينو په شان په جرح او تعديل کې د لومړنيو امامانو څخه ؤ.
امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وايي چې له ابو اسحاق نه روايت مه اخلئ ځکه هغه له حارث نه نقل کوي او نورو محدثينو دده دا خبره منلې ده او ويلي يې دي چې د هغه نه روايت وانخلئ.
امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وايې د زيد بن عياش په اړه وايي چې هغه مجهول دی. دارنګه امام بخاري، امام مسلم، ابن عبد البر مالکي، ابن حزم ظاهري، امام طحاوي هم ترې روايت نه دی ذکر کړی او د امام صاحب په خبره يې عمل کړيده.
امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وايې:(عن أبى حنيفة قال ما رأيت أحدا أكذب من جابر الجعفي ) تاريخ ابن معين - رواية الدوري (٣/ ٢٩٦)ما د جابر جعفي څخه بل څوک زيات درواغجن ليدلی نه دی ، نورو محدثينو هم جابر جعفي ضعيف ګرځولی دی.

### امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله زيات شاګردان درلودل چې د ځينو نومونه په لاندې ډول دي:

أبو يوسف يعقوب بن إبراهيم، وأبو الهذيل زفر بن الهذيل العنبري، دخراسان عالم إبراهيم بن طهمان ، أبيض بن الأغر بن الصباح المنقري، أسد بن عمرو البجلي، إسماعيل بن يحيى الصيرفي، الحسن بن زياد اللؤلؤي، حفص بن عبد الرحمن القاضي، حماد بن أبي حنيفة، حمزة الزيات ، داود الطائي، شعيب بن إسحاق الدمشقي، عبد الله بن المبارك، عبد الله بن يزيد المقرئ، محمد بن الحسن الشيباني، يوسف بن خالد السمتي او داسې نور.

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله شاګردان هر يو په خپل وخت کې په فقه، حديث، تفسير، سيرت او مغازي، علم قرآئت او نورو علومو کې امامان ؤ.

### دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په باره کې د سترو فقهاوو او محدثينو نظريات:

امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله ته به د وخت جيدو او سترو فقهاوو، مفسرينو او محدثينو ډول ډول نومونه کارول چا به ورته رئيس الفقهاء ويل ، چا به ورته فقيه الأمت ويل، چا به ورته د اسلامي فقهې بنسټ کېښودونکی ويل.
ځينې هغه محدثين او فقهاء چې دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله ستاينه او صفت يې کړی دی په لاندې ډول دي:
**١**-امام شافعي رحمه الله خو به ويل: الناس في الفقه عيال على أبي حنيفة. خلك په فقه کې د ابو حنيفه رحمه الله عيال دي. سير أعلام النبلاء للذهبي جـ ٦ صـ ٤٠٣).
**٢**- امام مالک رح وايي: داسې سړی مې وليد يعنې امام ابو حنيفه که يې ويلي وای چې دغه ستنه د سرو زرو ده نو خامخا به يې په دليل سره درته ثابته کړې وای. (سير أعلام النبلاء جـ ٦ صـ ٣٩٩).
**٣**- قال الخريبي: ما يقع في أبي حنيفة إلا حاسد أو جاهل. الخريبي وايي: څوک چې د ابوحنيفه مخالفت کوي هغه يا کينه او حسد کوي او يا جاهل دی. (البداية والنهاية لابن كثير جـ ١٠ صـ ١١٠).
**٤**- له امام ابن مبارك څخه چا وپوښتل چې مالك ډېرپوهېږي که ابو حنيفه؟ ده وويل:ابو حنيفه تر ټولو خلکو ښه پوه دی. (سير أعلام النبلاء جـ ٦ صـ ٤٠٣).
**٥**- ستر محدث يحیٰ بن معين (١٦٠ ه) فرمايي امام اعظم ثقه دی هغه به هغه حديث بيانولو چې د هغې حافظ به ؤ او هغه حديث به يي نه بيانولو چې حافظ به يي نه ؤ. او هغه په حديثو کې ثقه ؤ. (سير أعلام النبلاء جـ ٦ صـ ٣٩٥)، تهذيب التهذيب (٣٣/ ٥٤)
**٦**- عبد الله بن شبرمه رح المتوفي: ١۴۴ وايي چې مورګانې د امام صاحب په څېر عبقري کس له زيږونې څخه عاجزې دي. الانتقاء في فضائل الثلاثة الأئمة الفقهاء، لابن عبدالبر (ص: ١٣١)

**۷- زهیر بن معاویه رح المتوفي: ۱۷۴ ته یو څوک راغی چې زه د امام عظم له خوا راغلی یم هغه ورته وویل چې د هغه سره یوه ورځ تېرول داسې دي لکه ماسره چې یوه میاشت تېره کړې. الانتقاء لابن عبدالبر (ص: ١٣٤)**

**۸ - روح بن عباده وایې زه د ابن جریج سره وم چا ورته وویل چې امام ابوحنیفه رحمه الله وفات شو ، ابن جریج وویل: الله تعالی وربانديې ورحمیږي د هغه سره ډېر زیات علم لاړ. الانتقاء لابن عبدالبر (ص: ۱۳۵)**

**۹- یحیي بن سعید قطان به ویل: مونږ په الله تعالی درواغ نه وایو مونږ دامام ابوحنیفه د نظر څخه بل بهتره نظر نه دی لیدلی او مونږ د هغه اکثره اقوالو باندې عمل کړی دی. (سیر أعلام النبلاء للذهبي جـ ٦ صـ ٤٠٢)، الانتقاء لابن عبدالبر (ص: ۱۳۲)**

**۱۰-حفص بن غیاث به ویل: دامام ابوحنیفه رحمه الله خبره په فقه کې د ویښته څخه هم نازکه وه ، د هغه عیب نه بیانوي مگر جاهل سړی. (سیر أعلام النبلاء جـ ٦ صـ ٤٠٣).**

**۱۱- دامام اعمش رح څخه چا د یوې مسئلې پوښتنه وکړه. هغه ورته وویل: په دې کې نعمان بن ثابن ښه پوهیږي او زه د هغه په اړه فکر کوم چې الله تعالی ور لره په علم کې برکت اچولی ؤ. (الانتقاء لابن عبدالبر صـ ١٢٦).**

**۱۲- علی بن عاصم رح وایې: که چیرې د امام ابوحنیفه علم د هغه دزمانې د علماوو د علم سره وتلل شي؛ نو دهغه علم به وربانديې زیات شي. (سیر أعلام النبلاء جـ ٦ صـ ٤٠٣).**

**۱۳- حسن بن صالح بن حي به ویل: نعمان بن ثابت پوهه، عالم او په خپل علم کې متثبت شخص ؤ، کله به چې د هغه په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه صحیح حدیث پیدا شو، بل څه ته به نه گرځیده. الانتقاء لابن عبدالبر (ص: ۱۲۸)**

**۱۴- امام اسرائیل بن یونس وایې: چې امام صاحب ډېر ښه شخص وو او هغه ته هغه روایات چې په فقهي مسایلو پورې اړوند وو ښه یاد ؤ.**

**۱۵- خارجه بن مصعب وایې: ما د زرگونو علماوو سره لیدلې دي په ټولو کې مې درې یا څلور ډېر د عقل خاوندان پیدا کړي او په هغو دریو یا څلور کسانو کې یې امام ابوحنیفه هم ذکر کړی ده. تاریخ بغداد: ۳۶۴/۱۳.**

**۱۶- شباب بن سوار وایې چې امام شعبه بن حجاج دامام ابوحنیفه رحمه الله په اړه ډیر نیک نظر در لود.الانتقاء لابن عبدالبر(ص: ١٢٦)**

**۱۷-یحیي بن معین وایې چې ما د وکیع بن جراح په څیر عالم نه دی لیدلی اوهغه به هم دامام ابوحنیفه په رأیه فتوا ورکوله.** الانتقاء؛ لابن عبدالبر (ص: ١٣٦)

**دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مداحان او صفت کوونکي ټول لوی لوی محدثین دي لکه حماد بن ابی سلیمان المتوفي: ۱۲۰هـ ، مسعر بن کدام رح، ایوب سختیاني رح، سلمان بن مهران، الاعمش رح ، سفیان ثوري رح ، مغیرة بن مقسم الضبي ، یحی بن سعید القطان، ابن جریج مکي، امام محمد بن ادریس الشافعي، ابو عاصم النبیل ،او داسې نور یعنې د دوی تعداد پنځه شپېتو ته رسیږي کوم چې یواځې امام ابن عبدالبر په الانتقاء في فضائل الثلاثة الأئمة الفقهاء کې ذکر کړي دي او خپله امام عبدالبر رحمه الله مالکي مذهبه محدث او فقیه ؤ.**

**آن تردې پورې چې د ځینو امامانو په اړه ویل کیږي چې دوی د امام اعظم ابوحنیفه په مذهب ؤ لکه وکیع بن جراح، سفیان ثوري، سفیان بن عیینه ، یحیی بن معین، یحیی بن سعید قطان، مقاتل بن سلیمان.**